اطلاعاتو ته لاسرسی، د بنې حکومتولی نښه ده

اطلاعاتو د لاسرسي کمیسون ژمن دی چې د کمیسون له قانون سره سم ،خپلې کړنې او اجراات نشر کړي.

اطلاعاتو ته دلاسرسي کمیسون په مختلفو برخو کې  د لیندۍ له ۲۳ – ۲۸ نېټې پورې تر سره شوې کړنې.

#حقوقي_سلاکار:

۱- د اساسي قانوانینو او حقوقي کارپوهانود نظرونو په رڼا کې د کمیسون مالي او اداري طرحې سمول او بشپړول.

۲- د ولسمشرۍ چارو اداري ته د کمیسون له کړنو، مالي او اداري طرحو راپور ورکول.

۳- د کمیسون د بودجې لپاره د مالیې وزارت له معین سره په غونډو کې ګډون کول.

۴- د کمیسون په داخلي غونډو کې ګډون.

#سکرتریت:

۱- د کمیسون د کارکوونکو اونیز پلان جوړول او ترتیبول .

۲- اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسون د غړو د غونډ او لیدنو برابرول.

#د_عامه_پوهاوي_برخه:

۱- د اطلاعاتي بانک جوړولو لپاره د لومړنیو غونډو جوړول په کمیسون کې.

۲- اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په اړه د معلوماتي پروګرامونو جوړولو لپاره ټولو دولتي ادارو ته د مکتوبونو لېږل.

۳- د ولایتونو له همغږۍ سره اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په اړه د معلوماتي پروګرامونواو د ولایتو په ښاروالیو کې د اطلاع رسوني مرجع جوړول.

۴- کمیسون ته د مرکزي زون په راپور ورکولو پروګرامنو کې ګډون کول.

۵- د بشري منابعو لخوا د شپږ ۴بستونواعلان په ویب سایټ کې.

۶- عکاسي، د راپور جوړول او ترتیبول له اطلاعاتي بانک نه، د مرکزي زون د انکشافي راپور پروګرام، رییس او د کمیسون د غړو لیدنه د مالیې وزارت له معین سره او ددغو موادو خپرول د کمیسون په ویب سایټ کې.

#د_بشري_منابعو_برخه:

۱- دکمیسون او اداري اصلاحاتو له بریښنایي پاڼې د ولایتي کارپوه  ۶ بستونو اعلانول.

۲- د ۱۳۹۹ کال د تشکیلاتو پروپوزل نهایي کول.

۳- د تدارکاتومشورتي او غیرې مشورتي مسوول د ګمارنې او اسنادو طی مراحل کول.

۴- د ژباړن ازموینه اخیستل او بالمقطع ګمارل.

۵- اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته د ظرفیت لوړولو کارپوه ورپېژندل تر څو یې د معاشونو په سیستم کې ثبت کړي.

#مالي_او_حسابي_برخه:

1- د مالیې وزارت کې  کمیسیون لپاره د ځانګړي بودجوي واحد جوړ شو او د ملي بودجې له سند سره یو ځای او پارلمان ته واستول شو.

2- د کمیسیون لپاره قرطاسیه واخیستل شوه او  ډیپو ته تسلیم شوه.

3- د کمیسیون لپاره خوراکه باب واخیستل شول او  کارمندانو ته وویشل شول.

۱- د کمیسون کمیشنرانو او رييس ته د لړم او لیندۍ د میاشتي کردیت کارتونو ویشل.

۲- د بالمقطع کارکوونکو د معاشونو ورکول نغدي معتمد ته.

۳- د ۱۳۹۹کال د بودجي څېړل او د دې وزارت د سکتور او پالیسی له آمر سره غونډه.

#د_شکایتونو_برخه:

۱- د سیمیزو ارګانونو مستقلي اداري ته د اطلاعات غوښتلو په اړه د دري مکتبونو لېږل. د پکتیکا ولایت د ښاروالی ریاست د نقلیه وسیلو د پارکینګ په برخه کې د مدني ټولني او د دولتي ادارو د همغږۍ کمېټي شکایت، د ځمکو او ښار جوړوني وزارت د نیمروز ولایت د اطلاعات او فرهنګ ریاست د تعمیر په اړه د(GCCF) کمېټي شکایت او د مرکزي احصایي اداری د

۲- د ګمارني او بشري منابعو له کمېټوسره همکاري کول.

۳- د بشري منابعو آمریت ته د ۱۳۹۹ کال د تشکیلاتو جدول جوړول.

۴- د شکایت کوونکي، اطلاع رسوني مسوول او کورنیو چارو وزارت د ویاند له مرستیال سره غونډه، د کابل او ولایتو په سطحه د جنایي جرمنو د اطلاعاتو د نه ورکولو په اړه.

#د_تدارکاتو_برخه:

۱- د ۱۳۹۹ کال لپاره د تدارکاتي پلان برابرول.

۲- د فساد پر وړاندې د مبارزې پروګرام لپاره د اړینو موادو برابرول.

۳- د دوه عراده ۲۰۰۹ ماډل کرولاو وړاندیز څارل او د هغو د بلونو طی مراحل کول، د پیکنیک موتر ورځېنی راپور برابرول، د ۱۶ فورم ترتیب او د کنترول برخي ته لېږل.

۵- د ۱۳۹۸کال، ژمي لپاره د اړتیا وړ ګاز وړاندیز څارل.

۶- د (شرکت عاشوری مردان) څخه اطلاعاتو ته دلاسرسي کمیسون ته د اړتیا وړ ګاز راوړل.

#د_څار_برخه:

۱- د ولایتونو د اطلاع رسوني مسوولینو لیست جوړول.

۲- ۶ برېښنالیکونو ته ځواب او د هغو طی مراحل کول.

۳- د کلني پلانونو او پروګرامونو په اړه د عامه پوهاوي له آمریت سره غونډه کول.

۴- د بدني روزني له همغږۍ سره د پوهاوي پروګرام جوړ شو.

د خدمتونو او اداري برخه:

۱- اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته د ودانی رنګولو د وړاندیزجوړول او لېږل.

۲- د ښار جوړوني وزارت له استازي او ستري محکمي سره په همغږي د کمیسون د دفتر وړل د عدلي وزارت زړي مانۍ ته.

۳- د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې محفل جوړولو مرسته کول.

۴- د مقاماتو د دفترونو لپاره د وسایلو او جنسونو د فورمو جوړول.

۵- همکارانو ته د اړتیا وړ څیزونو ویشل.

۶- له خداماتي برخي څار کول.